# د ګل پاچا الفت او قيام الدين خادم په شعرونو کښې د ويښتيا د فکر پرتليز جاج

A Comparative analysis of the concern of awakening in the verses of Gul Pacha ulfat and Qiyam udin Khadim

Abdul Basir *
Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani) **

**Abstract:**

In this study, a comparative discussion of the ideas of the two great poets and writers of the late stage of Pashto literature, which they presented for the awakening of the Pashtun people, has been discussed. The purpose of doing this research is that for the awakening of the Pashtun people, regular and coordinated work should be done and our writers should give priority to these topics in addition to blanks and letters; Because if the Pashtun people continue to remain in darkness and isolation, there is also the fear that God forbid they will be further destroyed. The value of this topic is that our new poets and Pashtun fighters will be encouraged to read it. , to work for the awakening of Pashtuns and if he works, he will make more efforts in this field. The type of this research is bibliographic, the works of Ustad Qiamuddin Khadim and Ustad Gul Pacha Alfat and the works written about them have been reviewed and studied; The poems that he said to wake up his people were selected and then compared to each other, how close or different they are in terms of thought, and then the analytical and explanatory method. By analyzing and exploring.

**Keywords:** Pashto Literature, Poetry, Qiamuddin Khadim, Gul Pacha Alfat, Unity.

## الف- د قيام الدين خادم پېژندنه:

قيام الدين خادم په ۱۲۸۶ لمريز کال کښې د کامې ولسوالۍ په يوې روحاني کورنۍ کښې دنيا ته سترګې پرانيستې دي. د اروابناد خادم پلار مرحوم ملا حسام الدين اخوند پخپله سيمه کښې يو مشهور او پوه عالم وۀ خادم صاحب دوه نيم کاله په لوارګي

* Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

کښې اوسېده، همدلته د شاعرۍ، لیکوالۍ او ادبیاتو سره د هغه مرموزې لېوالتیاوې راوټوکېدې.

ښاغلے قیام الدین خادم په اوسنیو پښتنو شاعرانو او لیکوالو کښې د قدامت او مشرتوب حق لري او د افغاني پوهانو او ادیبانو په لومړۍ ډله کښې درېږي.

ښاغلي خادم د علمي شخصیت خاوند او د فلسفي افکارو څښتن دے، ددهٔ د ژوند زیاته برخه په لیکلو او لوستلو کښې تېره شوې ده او ددهٔ د لوستلو او لیکلو مهم مقصد د پښتو ژبې خدمت کول او د خپل قوم راویښول دي، چې په دې لاره کښې ئې زیار ایستلے دے..... ددهٔ فلسفي افکارو کله د علامه اقبال د افکارو رنګ اخیستي او کله هم د رابندراناټ ټیګور د معنوي فلسفې بڼې ته ورته وي، خو په دواړو لارو کښې د افغاني تفکر طرز هم نهٔ هېروي او د خپل محیط او ماحول تقاضا او تلقي هم په پام کښې نیسي. په هر صورت ښاغلي خادم د پښتو ژبې منلے لیکوال، پوهه ادیب، او پوخ شاعر دے.

که موږ په ادبي تاریخ کښې د پوهاند رښتین او پوهاند رشاد نه مخکښې د جهاني یادونه کوو، دلیل ئې دا دے، چې په ادبیاتو کښې هنر او بداعت تر علم او تحقیق مخکښې راځي، که څوک د ادبي څېړنو تاریخ لیکي هلته ښائي د ځینو نامتو شاعرانو او کیسه لیکونکو هېڅ یادونه ونشي.[1]

### ب- د ګل پاچا الفت پېژندنه:

استاد محمد صدیق روهي د ګل پاچا الفت دپېژندګلوۍ په اړه داسې وائي:« ګل پاچا الفت په نثر او نظم کې د ویښتیا دپړاو سر لارے دے، ګل پاچا الفت د میرسید باچا زوے د سیدفقیر باچا لمسي، په ختہ سید پښتون او په (۱۲۸۷ھ ش) کال د لغمان د عزیزخان په کڅ کښې زېږېدلے دے، که څهٔ هم الفت له کتابت څخه وزارت ته رسېدلے دے؛ خو موږ د یوه شاعر او لیکوال هنري شخصیت ته له رسمي القابو او رتبو سره ارتباط نهٔ ورکوو[2]

ګل پاچاالفت دپښتو ژبې داوسني ادب دنوروسرلاروپه څېر په سیستماتیک ډول کوم ښوونځے اویادعالي تحصیل کومه موسسه نهٔ وه لوستې ،بلکې دلغمان ننګرهاراوکابل په دیني مدرسوکښې ئې له مشهوروعلماووڅخه زده کړه وکړه (صرف

،نحوه ،منطق ،تفسیر،معاني ،بیان اوداحادیثوکتابونه ئې ولوستل، دغه زده کړې که څۀ هم غیرې منظمې وې ، خو د دۀ د ځپانده فطري استعداد په تاندولواوروزلوکښې ئې ستراغیزدرلود.

امادالفت لپاره هماغه لومړنۍ زده کړې پوره وې،بلکې ده د ژوند ترپایه مطالعه کوله، نوي نوي شیان ئې زده کول اونوي مضمونونه ئې لوستل او د خپلو دغو مطالعواولوستنوحاصل ئې د خپل ژوند په اوږدوکښې په بېلابېلو بڼو خپلو هېواد والو او پښتنو ورونو ته وړاندې کړي دي-

په شکلي لحاظ ګل باچاالفت غواړي، چې د خپل فکر مرغلره د عاطفې په اوبوو مېنځي او د ساده عام فهمه او روانو کلمو په لوپټه کښې ئې تاوه کړي- هغه سادګي یوصفت ګڼي، له تکلیف، تصنع او ځان جوړوني څخه خپله لاره بیلوي او وائي: هغه انشاء چې ځلا ولري دا لیکنه د لیکوونکي عجز او تصنع ښیي، دا راز هنر ښودنه د واعظانوکاردي. په شعراوادب کښې سادګي لوي صفت دے، نه کاکه توب، څومره چې د چا فکري او معنوي پانګه زیاته وي هم هغه اندازه ئې سبک ساده اوروښانه وي.

هغه څوک چې دعبارت په ډول په سینګارپسې ډېرګرځي اوله لفاظۍ څخه ډېرکاراخلي خپل معنوي فقردالفاظوپه برق اوذلق کښې پټوي، نو په دې وجه الفت د روان او ساده نثر غوښتونکے دے ،چې د تکلیف نښې نښاني پکښې نۀ وي خو( داساده ګي له ساده ګۍ نه ساده ګۍ نۀ ده،بلکې دلیکوال له زیات قوت اوحاکمېت نه ساده ګي ده .

موږ شاعران له عدم سره جنګېږو څو هغه په هستۍ بدل کړو ، دچوپتیا دروازه په سوک وهو څو یو ځواب ورکونکے موسیقي واورو، موږ لایتناهي فضا په یوه لوېشت کاغذ کښې ځایوو او د زړۀ د دوه ګوتو فضانه سېلاب را بهوو .[3]

شعر په وزن لرونکې ژبې سره دمفکورې او تخیل عاطفي ترکیب ته وئیل کېږي. زمونږ ځینې کره کتونکي داسې شعرونو ته،چې په هغه کښې دځوان نسل د بیدارۍ ناري وهل شوې وي، شعر نه بلکې شعار وائي، خو څرنګه وئیل شوي دي چې په وزن لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخیل عاطفي تړون ته شعر وائي، د استاد قیام الدین خادم او ګل پاچا الفت

شعرونه همدغه ځانګړنې لري، هم پکښې خوند شته او هم پکښې پند. هم عاطفه او هم تخیل او مفکوره.

استاد غضنفر لیکي،چې په شعر کښې د معنا یا مفکورې د موجودیت تر څنګ د شاعرانه خیال، تصویر او مبالغې شتون هم اړین دی.[4]

ویښتیا: یعنې بیداري له خپل عقل او فکره کار اخیستل د ژوند په اصلي مفهوم پوهېدل او له ټولو شته امکاناتو اعظمي ګټه اخیستل ویښتیا ده.

**سعادت:**

د انسان بریا او د دواړو دنیاګانو سعادت په دې کښې دي،چې علم وکړي، عمل پرې وکړي او با تقوی وي، د خلکو خدمت وکړي او خپل وخت بې ځایه تېر نهٔ کړي، استاد قیام الدین خادم د خلکو سعادت په څلورو څیزونو(کار، عمل،خدمت او تقوی) کښې ګڼي او تل ئې د خپل قوم د ویښولو او بیدارۍ لپاره همدار خبرې کړې، که یو څوک عالم وي، هغه خپل او د بل حق په ښهٔ ډول پېژندلے شي،که څوک تقوی ولري، یعنې له خدا ے (ج) څخه ویره ولري، هغه هېڅکله هم داسې کار نهٔ کوي، چې د ټولنې او خلکو په زیان وي، که یو څوک کار وکړي ، خپله او د نورو د ښېرازۍ لامل کیږي، ټولنه په اقتصادي لحاظ بسیا کیږي، چې په پایله کښې یوه داسې ټولنه رامنځته کیږي،چې له هره اړخه واکمنه او ځواکمنه وي،

پـــــه څلـــــور څیـــــزه کښـــــې ســـــعادت دے
علـــــم و تقـــــوی، کـــــار وخـــــدمت دے
حـــــرص دې کـــــم کـــــړه خودخـــــواهي پرېـــــږده
کـــــار وعمـــــل کـــــړه څـــــو دې طاقـــــت دے[5]

خو ګل پاچا الفت د دنیا او آخرت بریا ،د قام خدمت په توره وهلو او ټینګ عزم کښې بولي، نوموړي وائي:

ترقـــــــــي او اعـــــــــتلا څـــــــــوک
کـــــه د قـــــام او ملـــــت غـــــواړي

پـــــه وطــــــن او پــــــه هيــــــواد کښـــــې
کـــــه ښــــه نـــــوم او عـــــزت غـــــواړې
يــــــا د ديــــــن او دنيـــــا ګټـــــه
يــــــا لــــــه خدايــــه جنـــــت غـــــواړې
تـــــول پـــــه تـــــوره ګټـــــل کيـــــږي
خـــــو ټينـــــګ عـــــزم و همـــــت غـــــواړې

خو په يو بل ځاے کښې د سعادت راز په عمل کښې ګڼي، يوازې تيوري او نظر نشي کولے، چې يو څوک دې خوشبخته کړي، بلکې عمل دي، چې ټولنې يې لوړې کړې دي. دے وائي:

د عمـــل لار کښـــې چـــې ايښـــې چـــا يـــو ګـــام دے
پـــه جهـــان کښـــې يـــې پـــه نـــورو اوچـــت بـــام دے
اراده او د کـــــار عـــــزم چـــــې لـــــري څـــــوک
د هغـــه هـــر وخـــت کښـــې شـــوي احتـــرام دے
د عمـــل د خاونـــدانو پـــه حضـــور کښـــې
د وينـــا خاونـــد ولاړ لاس پـــه ســـلام دے
نـــه پـــه تشـــه وينـــا کـــار د چـــا ســـم شـــوي
نـــه مـــوړ شـــوي کلـــه تـــږي پـــه تـــش جـــام دے [6]

## يووالي يا وحدت:

اتحاد، وحدت، يووالي د يوه هيواد د خلکو لپاره هغه سترځواک او قوت دے، چې د نړۍ هيڅ زبر ځواک کولے نشي، هغه مات کړي، خداے(ج) په قران کريم کښې فرمائي، چې (وعتصمو بحل الله جميعاً و لاتفرقو) ژباړه ؛ تاسې د خداے په رسۍ (قران) منګولې ټينګې کړئ او هيڅ کله هم بې اتفاقي مه کوئ، يعنې په خپلو منځونو کښې جګړې او شخړې مه کوئ، کله اسلامي تاريخ ولولو؛ کله چې مسلمانان سره يو موټي وو، په کابو نيمايي نړۍ دوي حکومت کوه، يعنې ځواک او واک دواړه له مسلمانانو سره وو، د علم او پرمختګ پيل مسلمانانو وکړ، پوهنتونونه او علمي اکېډمۍ دوي رامنځته کړې؛ خو کله چې سره وپاشل شول او د قوم او مليت په نوم ئې نارې پورته کړې دښمن خو لا مخکښې په

کمین کښې وو، له موقع ئې استفاده وکړه او دغهستره امپراتوري ئې ټوټې ټوټې کړه، نن د مسلمانانو حال مونږ او تاسې ټول کتلے شو. زمونږ د ادب دې دواړو استادانو دغه مهمې مسئلې ته هم په خپل شعر کښې اشاره کړې:

خادم صاحب وائي، چې قوي اقتصاد او قوي دولت د ملت په ټنګېدو یا یوځاے کېدو کښې دي، که ملت سره وپاشل شو، نو همدغه پاشل د مشکلاتو منبع ده، چې اوس ئې مونږ په رڼو سترګو وینو، نوموړي وائي:

اتــــــه شــــــــرطونه، مقومــــــــات دي
همـــــــدا کلتـــــــور او معنویـــــــات دي
ملـــت چـــې ټینــګ شـــي، اقتصـــاد ســم شـــي
چـــې تشـــکیل ســـت شـــي ډېـــر مشـــکلات دي [7]

استاد قیام الدین خادم بیا مونږ ته وائي، چې مونږ او تاسې خو آرین یو، دین و مذهب مو یو دي، نو بیا ولې سره بېل یو، دغسې یو بل ځاے یو مملکت له یوه باغ سره تشبیه کوي، چې په یوه باغ کښې رنګارنګ ونې او ګلونه وي، دغه ټول ګلونه له یوې منبع اوبه څښي او د یوه باغ په ښکلا کښې ونډه لري؛ که څهٔ هم یو له بله بېل بېل نومونه لري، دي وائي:

ښــــــاغلي نســــــل د آریــــــــن یـــــــو
یـــو مـــــو مــــــذهب دے د یـــــو وطـــــن یـــو
فخــــر مــــو یــــو دے لکــــه یــــو تــــن یــــو
مئــــین پــــه هــــر ګــــل د خپــــل چمــــن یــــود [8]

او بل ځاے وائي:

لکـــــه بــــاغ یــــو مملکـــــت وګڼــــه وروره
پکــــې هــــر قســــم ګلونــــه بــــوټي ګــــوره
ونــــې ډېــــر خــــو بــــاغ یــــو دے کــــه پــــوهېږے
کــــه کــــوې بــــل رنګــــه فکــــر ډېــــر غــــولېږے

دوه ســـکه ورونـــه لـــري بېـــل بېـــل نومونـــه
بېـــل رنګونـــه، بېـــل غړونـــه، بېـــل خويونـــه
مګـــر دواړه اوســـېدونکي د يـــو کـــور وي
د يـــوې ســـترګې پـــه کـــور کـــې ســـپين او تـــور وي [9]

**پرمختګ:**

قيام الدين خادم په خپل قوم مېئن شاعر او ليکوال وؤ، نوموړي په خورا ډېرو ليکنو کښې د پښتنو د بيدارۍ لپاره خپل غړ پورته کړے دے، نارې ئې کړې، چې وېښ شئ کار و تعليم وکړئ، له دې پرته مو بله چاره نشته ده، په لاندينۍ څلوريزه کښې ئې د ترقۍ لامل د زلمي فنکار کېدل يا په بله وېنا د علم او فن په جامه سمبالېدل ښودلي دي، نوموړي وائي:

ترقـــي شـــوه چـــې زلمـــي صـــاحب د فـــن شـــو
بـــې فکـــري پـــه خپلـــه فکـــر د وطـــن شـــو
د مســـکو د چـــانس د پـــاره کمونســـت و
ديمـــوکرات شـــو چـــې يـــې وار د واشـــنګټن شـــو

خو الفت صاحب وائي:

بـــې کمـــال کـــه لـــري مـــال هـــر څـــومره ډېـــر
لـــه احتياجـــه نـــه خلاصـــيږي بـــل تـــه اړ دي

يو بل ځاے بيا داسې وائي:

لـــه معنـــي او لـــه کمـــال ســـره آشـــنا شـــه
مونـــدل کېـــږي لـــوي عـــزت د علـــم نور کښـــې

**د علم ارزښت**

نن پر نړۍ کتاب او قلم حکومت کوي، دا چې مونږ ورته شا کړې همدغه زمونږ بدبختي ده، زمونږ دغه دوو بلبلانو ګلونه مخکښې مونږ ته د قلم او علم د ارزښت درس راکړے، چې مونږ بايد د قلم او کتاب لاره ونيسو له دې پرته به مو نجات په بل څۀ کښې نۀ وي، استاد قيام الدين خادم وائي، چې د قلم قدر چې چرته نۀ وي ، هلته د انسان قدر نشته

او چرته چې لیک او لیکوال ته ارزښت نهٔ ورکول کیږي او بې ارزښته وي، د هغې ټولنې وګړي به څهٔ ډول ښه ژوند ولري او څهٔ ډول به ئې حال تغیر وکړي، موږ باید د استاد په دې زرینو خبرو عمل وکړو او سر له همدې ورځې هم خپل او هم نور د عمل او قلم خواته سوق کړو۔

د قلـــــم قـــــدر چــــې چېرتـــــه نشــــي
د انســـــان قــــدر بــــه هلتــــه څــــه شـــي
چېرتـــــه مقهـــــور چــــې لیــــک ولیکــــوال وي
د خلکــــو حــــال بــــه یـــې څنګــــه ښــــه شـــي

نــــن هغــــه فـــاتح دي، چـــې د علـــم وي وســـله پـــه لاس
اوس پـــه دې ډګـــر کـــې تـــوره ډال خوشـــي عبـــث دي

استاد ګل پاچا الفت هم ورته نظر لري او وائي:
کـــه پـــه هـــر لبـــاس کښـــې علـــم ځـــآن ښـــکاره کـــا
د تعظـــــــــیم د احتـــــــــرام د قـــــــــدر وړ دي

فضـــــیلت د انســـــــان علــــــم او عمـــــــل دے
کـــه پـــه ســـر یـــې پټکـــي شـــال او کـــه ململ دے [10]

**کار او زیار:**

د نننۍ نړۍ د پرمختګ په مهمو فاکتورونو کښې یو هم سخت کار او زیار ښودل شوي دي. نړۍ والو د اوسني پرمختللي ژوند بنسټ په سخت او سنجېدلي کار ایښي دي، ښاغلي استاد قیام الدین خادم هم پښتون ټبر کار او زیار ته رابولي، کار ژوند بولي او بې کاره ژوند زبون بولي، دې فرمائي:

کـــار کـــوه کـــارکوه چـــې کـــار ژونـــدون دے
هغــه چـــې کـــار نـــه کـــوي ژونـــد يـــې زبـــون دے
کـــار وظيفـــــه ده لـــــه حرصــــه پاکــــــه
چـــې هبـــر دې نشـــي عـــالي مضـــمون دے

گل باچا الفت هم دغه نظر لري، مونږ ته وائي، چې د کار په واسطه له تورو خاورو سره زر جوړيږي او د کاريگر د لاس تناکې مرغلرې دي، دغسې په بل ځاے کښې له خدايه د سختو کارونو د توفيق غوښتنه کوي او حتي د جنت حورې هم وړيا نهٔ غواړي او مفت او بخششي تفوق او اعتلا نهٔ غواړي:

پـه کـار او زيـار بانـدې لـه تـورو خـاورو زر جـوړيږي
د کـــاريگر د لاس تنهـــاکو نـــه گـــوهر جـــوړيږي

راکـــړه توفيـــق د ډېـــرو گرانـــو او مهمـــو کـــارو
جنـــت او حـــورې ماتـــه خوشـــې وړيـــا مـــه راکـــوه!
پښـــې چـــې ږدي د چـــا پـــه ســـر د چـــا پـــه وليـــو بانـــدې
ماتـــــه دا رنگـــــه تفـــوق اعـــتلا مـــــه راکـــوه

**تضاد او بې اتفاقي:**

په اسلامي ارشاداتو کښې مسلمان يو بلل شوي او تل پر دې تاکيد شوي،چې مسلمان د بل مسلمان ورور دے، او پر وحدت ئې ټينگار شوے دے، که مسلمانان سره يو وے نن به دومره ذليل او خورا نه وے، همدارنگه که مونږ افغانانانو په خپل مينځ کښې سره يووالي درلودے نن به د نړۍ تر ټولو خوشبختو هيوادونو کښې حساب وے، خو په خواشينۍ سره،چې قومي، ژبنيو او سمتي تعصبونو افغانان هلاکت کندې ته واچول، استاد قيام الدين خادم د ملي وحدت پر شتون ټينگار کړے او مونږ ئې دې ته هڅولي يو،چې سره يو اوسو.

پـــــه يـــــوه وطـــــن کښـــــې دا تضـــــادونه
پـــــه څـــــو څـــــو رنگـــــه اختلافونـــــه

د استعمار تقسیم نه وروسته
چارا پیدا کړل دا فسادونه [11]

استاد ګل پاچا الفت دغو تضادونو ته له بلې زاوئې ګوري او داسې ئې تشریح کوي، چې دا د وطن اوبه د مور شیدې دي، چې تاسې یې خورئ او ورڅخه ګټه اخلئ، نو څوک چې له تاسره دا شیدې شریکې خوري هغه ستا ورور دے، ته باید په بده سترګه ور ته وۀ نۀ ګورې او تل به د هغه په غم کښې وې.

دا اوبه چې ته یې څکې د وطن پۍ دي
نو وطن بوله په شان د خپلې مور ته
چا چې ابښې په دې تې درسره خوله ده
هغه خور او ورور ګڼه د سترګو تور ته
هېڅکله په بد نظر ورته مه ګوره
لکه ځان د هغه هم اوسه غمخور ته

**غفلت:**

نن چې مونږ څومره هوسا او آرام ژوند لرو، د ا ټول د علم برکت دے، د دنیوي او اخروي ژوند د ټولو بدختیو څخه د ژغورنې یواځینۍ لاره علم حاصلول دي، د اسلام په مقدس دین کښې د علم درجه خورا لوړه ښودل شوې په قران کښې په صراحت سره وئیل شوي، آیا پوهان او ناپوهان برابر دي؟ ښکاره ده، چې هېڅکله برابر نۀ دي ، د قران لومړني آیتونه په (ولوله) سره شروع شوي دي،چې لوستل د علم لومړنۍ وسیله ده، استاد قیام الدین خادم دې مسئلې ته په پورته شعر کښې څومره ښه اشاره کړې ده او وائي، چې تر څو چې پښتانۀ د غلفت له خوبه راویښ نۀ شي او د علم په وسله ځان مجهز نۀ کړي له دې روانو بدبختیو به وۀ نۀ ژغورل شي، استاد قیام الدین خادم په خپلو نغمو کښې پښتنو ته غږ کړے، چې راویښ شئ او نور دغفلت خوبونه مو بس دي، علم زده کړئ او د ترقۍ پر لار روان شئ.

نن د غفلت له خوبه پاڅه شه بیدار پښتونه
د ترقۍ په لار روان شه مه کړه وار پښتونه

مـــلا دې بســـته کـــړه پـــه عمـــل او پـــه تقـــوا مضـــبوطه
علـــم وســـله درســـره واخلـــه پـــه تلـــوار پښـــتونه
چـــين وجاپـــان، پـــورپ، امريکـــه و افريقـــه تمـــام
واړه عـــالم درپـــورې خانـــدي پـــه بـــار بـــار پښـــتونه

ګل پاچا الفت صاحب هم د غفلت په اړه وائي، څوک چې غفلت کوي، هغه به له واقعي ژونده هېڅ هم تر لاسه نهٔ کړي او تل به بې برخې وي:

د ړنـــــدو کنـــــو بهـــــار څـــــه بهـــــار نـــــه دي
اوس پکـــــار دي بينـــــا ســـــترګې زور غوړونـــــه
ســـترګې پورتـــه کـــړه لـــه خوبـــه را بيـــدار شـــه
ويـــده نـــه لـــري څـّــه برخـــه لـــه ژوندونـــه [12]

دغه راز په يو بل ځاے کښې د دوو ګوجرو کيسه راغلې، چې ميښې څروي، خو کله چې د ميښو د لنګون وخت شي يو ويديږي، مېښې ئې ټول ښځينه يا ماده زيږوي، هغه بل چې ويښ دي، دهغه ميښې ټول نر زيږوي، خو خپل د هغه بل له ماده وو سره بدلوي، هغه ويښ ګوجر چې راويښيږي او ما جرا ګوري، چې ميښې ئې ټول نر زيږولي او له خپل ملګري پوښتي، نو هغه وائي: څوک چې خوبونه کړي ميښې ئې نر کټې زيږوي.

څـــــوک چـــــې ســـــاتونکي او نګهبـــــان وي
يـــــو ســـــاعت خـــــوب يـــــې زيـــــان و تـــــاوان وي
هغـــــــه هېڅلکـــــــه نـــــــه کـــــــړي خوبونـــــــه
غفلـــــت لـــــوي عيـــــب وي لـــــه يـــــوه شـــــپونه

**ناپوهي او جهالت:**

پښتو لنډۍ ده؛

نـــــارې وهـــــم غـــــږ راتـــــه نـــــه کـــــړے
بيـــــا بـــــه جهـــــان را پســـــې ګـــــورے نـــــه بـــــه يمـــــه

زمونږ ليکوالانو او شاعرانو مونږ ته ډېرې نارې وکړې، لکه خوشحال بابا چې:

پـــه هـــر ځـــا ے کښــي پښــتانه پـــه تـــوره ښـــه دي
کـــه پـــه پوهـــه پښـــتانه واي څـــه هوښـــيار

استاد قيام الدين وائي؛ زما سره په کچکول کښې جهانونه پراته دي، خو دې (زما قوم) راته د ملنګ ګومان کوي، چې ګواکي دي په خپله څۀ نۀ لري او فقيران دي، دا قوم هغه رنځور ته ورته دي، چې په کټ کښې پروت دي، خپل طبيب او دوا نۀ پېژني او دومره د جهالت په کنده کښې غورځېدلي، چې خپل سبا او بېګاه هم نۀ پېژني، له لاندې شعر څخه استاد مونږ ته داسې درس راکړے، چې نور نو له دې فلاکت او هلاکت څخه ځان وژغورئ، ويښ شئ او خپله راتلونکې په خپله جوړه کړئ!

تـــوتې تـــوتې د جهالـــت او د نفـــاق پـــه تـــوره
پـه کـټ کښـې پـروت دے خپـل طبيـب و دوا نـه پېژنـي
وينـې مـې وچـې شـوې پـه سـترګو کښـې دده لـه غمـه
پـــه غټـــو ســـترګو دغـــه وينـــې ژړا نـــه پېژنـــي
سـره لـه عملـه يـې رسـوا شـومه پـه مينـه کښـې زه
رقيبـــه! پربـــږده دا ســـاؤ قـــوم دې خـــوار کړلـــو ډېـــر
لـــه ناپوهيـــه خپـــل ســـبا او بېګـــاه نـــه پېژنـــي

استاد ګل پاچا الفت هم دغې دردونکې موضوع ته اشاره کړې او داسې ئې ويلي:

کـــه ئـــې ښـــه پـــوره پـــه حـــال بانـــدې خبـــر شـــې
خـــدايېږو تـــه بـــه هـــم پـــرې وژاړې رقيبـــه
نـــاپوهي خـــواره خـــواري ده او پښـــتون دے
کـــور يـــې وران کـــار يـــې ګـــډوډ او بـــې ترتيبـــه

په يو بل ځاے کښې بيا داسې وائي:

نـــور بـــه مـــوټرو، طيـــارو او جهـــازونو کښـــې ځـــي
د پښـتون مخکښـې بـه وي خره دي بـه خر کـار پـاتې شـي
هـــر څـــه بـــه نـــوي شـــي زړه اوضـــاع بـــه نـــه وي پـــاتې
پښـــتون بـــه دغســـې کوتـــک او کوتکمـــار پـــاتې شـــي

نــه يــې طبيــب شــته نــه دوا نــه د عــلاج څــه فکــر
د نــاپوهۍ پــه رنــځ اختــه بــه دا بيمــار پــاتې شــي

دغه راز يو بل ځاے وائي، چې ننني عصر د علم او تکنالوژي عصر دے، په دې نړۍ کښې بې له علمه ژوند گران دے.

د جهـــل دوره تېـــره شـــوه د اعصـــر د عرفـــان دے
بـــــې علمـــــه ژونـــــدون گـــــران دے

**د قام خدمت:**

استاد قيام الدين خادم د خپل عمر پر تېرېدو خفه دے، نوموړي وائي، چې عمر مې تېر شو خو هي افسوس چې قام او وطن ته پکښې خدمت وکړے نۀ شو، له دې څخه مونږ بايد درس واخلو او وينې اوسو، چې د ژوند بقا نۀ لري او وخت نۀ تمېږي، اړينه ده، چې له دې زرينو شېبو څخه دخلکو د خدمت او سوکالۍ لپاره کار واخلو.

ډېــــرې شـــپې د عمـــر تېـــرې شـــوې تېرېـــږي
پـــه تېـــر عمـــر مـــې زړګـــوټې تـــل ځـــورېږي
مـــا د قـــام خـــدمت ونکـــړ هـــاې افســـوس دے
هغـــه نبـــوغ چـــې خـــاورې ايـــرې کېـــږي [13]

الفت صاحب وائي، چې د يوه کس نوکري غلامي ده، چې عزت د قام و وطن په خدمت کښې دے او دے وائي چې زۀ به ځان د خادمانو خادم بولم.

د يـــوه شـــخص نـــوکري خـــو غلامـــي ده
لـــوے عـــزت د خپـــل وطـــن او قـــام خـــدمت دے
چـــې خپـــل ځـــان گڼـــي خـــادم د خادمـــانو
پـــه دې راز بـــه پوهېـــدلي نـــن الفـــت دے [14]

**پايله** گل پاچا الفت او قيام الدين خادم د پښتو ادب هغه ځلانده ستوري دي چې د خپل خپل فکر نيلي ئې د ژوند په مختلفو ډګرونو زغلولي دي. د پښتو ادب او شعروشاعرۍ خان له خپل خپل مقام لري. خپلو شعرونو کښې ئې د ژوند په مختلفو اړخونو طبع ازمائي

کړے ده. ګل پاچاالفت او قیام الدین خادم په نثر او نظم کښې د ویښتیا دېړاو سر لاروي دي. شعر په وزن لرونکې ژبې سره دمفکورې او تخیل عاطفي ترکیب ته وئیل کېږي. زمونږ ځینې کره کتونکي داسې شعرونو ته، چې په هغه کښې دځوان نسل د بیدارۍ نارې وهل شوې وي، شعر نه بلکې شعار وائي، خو څرنګه وئیل شوي دي چې په وزن لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخیل عاطفي ترون ته شعر وائي، د استاد قیام الدین خادم او ګل پاچا الفت شعرونه همدغه ځانګړنې لري، هم پکښې خوند شته او هم پکښې پند. هم عاطفه او هم تخیل او مفکوره.

د انسان بریا او د دوارو دنیاګانو سعادت په دې کښې دي، چې علم وکړي، عمل پرې وکړي او با تقوی وي، د خلکو خدمت وکړي او خپل وخت بې ځایه تېر نۀ کړي، استاد قیام الدین خادم او ګل پاچا الفت هم پۀ دې ټینګار کوي. د خپل قوم د ویښولو او بیدارۍ لپاره همدار خبرې کړې، که یو څوک عالم وي، هغه خپل او د بل حق په ښۀ ډول پېژندلے شي، که څوک تقوی ولري، یعنې له خدا ے (ج) څخه ویره ولري، هغه هېڅکله هم داسې کار نۀ کوي، چې د ټولنې او خلکو په زیان وي، که یو څوک کار وکړي ، خپله او د نورو د ښېرازۍ لامل کیږي، ټولنه په اقتصادي لحاظ بسیا کیږي، چې په پایله کښې یوه داسې ټولنه رامنځته کیږي، چې له هره اړخه واکمنه او ځواکمنه وي،

اتحاد، وحدت، یووالي د یوه هیواد د خلکو لپاره ډېر ضروري دے. ګل پاچا الفت او قیام الدین خادم په خپل قوم میئن شاعران او لیکوالان وو، نوموړو په خورا ډېرو لیکنو کښې د پښتنو د بیدارۍ لپاره خپل غږ پورته کړے دے، نارې ئې کړې دي، چې ویښ شئ کار و تعلیم وکړئ، له دې پرته مو بله چاره نشته ده

# حوالې

1. ګل پاچا ،الفت، غوره اشعار، کابل، پښتوټولنه، ۱۳۸۶ لمریزکال.۵۳ مخ.
2. ګل پاچا ،الفت، د زړه وینا. کابل:پښتوټولنه ، ۱۳۸۶ لمریز کال . ۲۹۱
3. بریالے باجوړے، د پښتو ادبیاتو تاریخ ( دوېښتیا پړاو). کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه. ۱۳۹۷ لمریز کال.۱۳۸ مخ.
4. قیام الدین خادم ، خادم باد سبا یم (د لال پاچا ازمون په زیار).کابل: دانش خپرندویه ټولنه. ۱۳۹۱ل کال. ۹۳مخ.
5. قیام الدین خادم.ځاروان.کابل: پښتو ټولنه. ۱۳۴۶ل کال، ۱۶مخ.
6. دوست محمد ،دوست ،دادب تیوري اساسونه ( دویم چاپ) ننګرهار: یارخپرندویه ټولنه. ۱۳۹۳ ل کال، ۴۳مخ
7. محمد رفیق ،رفیق،معاصر متون.کابل: د ښوونکو دروزنې لوي ریاست (مسوده) .۱۳۹۱ ل کال ۳۱مخ.
8. محمد صدیق ،روهي، .د پښتو ادبیاتو تاریخ(دویم ټوک).پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. ۱۳۸۴ل کال، ۳۲مخ.
9. محمد صدیق ،روهي. شعر پېژندنه. کابل: صمیم ادبي ټولنه. (۱۳۸۵) ل کال، ۴۷مخ.
10. ډاکټرزېورالدین زېور،د پښتو ادبیاتو تاریخ(اوسنۍ دوره).درېیم چاپ. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه. ۱۳۸۹ ل کال ، ۴۶مخ.
11. مصطفي ،سالک ،منشور(کره کتنه). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. ، ۱۳۷۹ ل کال ، ۴۱۷مخ.
12. اسدالله غضنفر، کلتور او ټولنه.جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه. ۱۳۹۳ ، ل کال، ۳۱۴مخ.
13. اسدالله غضنفر ، جادوګر هنر . جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه . ۱۳۹۳،ل کال ۱۲۷مخ.
14. زلمي هېوادمل ،دالفت یاد(د سمینارد مقالو ټولګه)، کابل: علومو اکاډمي. ۱۳۶۱ ل،کال۲۲۱مخ.

## References


1- Gul Bacha Ulfat, Ghwara Asghar Kabal Pakhto Tolana., (1386) lamriz kal,53, makh.
2- Gul Bacha UlfatDa Zrah Wina, Kabal Pakhto Tolana., (1386) lamriz kal,291, makh.
3- Baryale Bajaure‹Da Pakhto Adbyato Tarikh, (dawikhtaya paraw) Kabal jahan Danish kharndoya Tolana., (1397) lamriz kal138, makh.
4- Qiamu Din Khadim, khadim bad saba yam (Lla Bacha Azmon pa Zyar), Kaba: Danish Khaprendiya Tolana. (1391) lamriz kal,93. Makh.
5- Qiamu Din Khadim, sarwan, Kabal, Pakhto Tolna. (1346) lamriz kal,16, makh.
6- Dost Muhammad Dost,da adabtewri assasona (2nd Chap) Nengrahar: Yar Khaprandoya, Tolana, (1346) lamriz kal 43, makh.
7- Muhammad Rafiq Rafiq, Muaser maton, Kabal, da Khawonko darwazni loi riyasat (mosweda). (1391) lamriz kal,31, makh.
8- Muhammad siddique rohi, da Pashto adabyato tarikh( dwayam took) Peshawar: danish khparandoya tolana 1384 lmariz. Kal,32, makh.
9- Muhammad siddique, rohi. Sher pezhandana. Kabul: samim adabi tolana,1385 lmariz. Kal47, makh.
10- Dr zewaruddin zewar, da Pashto adabyato tarikh ( osany dawra). Driyam chaap. Peshawar: maihan khparandoya tolana. 1389 lmariz. Kal,46, makh.
11- Mustafa, salik, manshoor( karakatana). Peshawar: danish khparandoya tolana. 1379 lmariz. Kal,417, makh.
12- Asadullah ghazanfar, koltwor aw tolana. Jalalabad: momand khparandoya tolana. 1393 lmariz. Kal,314. Makh.
13- Asadullah ghazanfar, jadogar honar. Jalalabad: momand khparandoya tolana 1393 lmariz. Kal,127, makh.
14- Zalmy hewadmal, Ulfat Yaad (da seminar da maqalo tolga), Kabul: ulumo acadmi. 1361 lmariz. Kal,221, makh.